مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوحید وحید ۲۰۲۶/۰۶/۲۰

د خلیج جګړه:

د سیمه ییزو سیاستونو بدلېدونکې معادله

له څو لسیزو راهیسې ایران یوازې په نیابتي ډلو باندې د پانګونو له مخې خپلې موخې ترلاسه کولو هڅه کوله، له عراق سره له جګړې وروسته یې له نیغ په نیغه ټکر څخه ځان ساته. دغې تګلارې ورته د افغانستان په ګډون په سیمه ییزه او نړیواله کچه منتقدین او مخالفین پیدا کړي وو، خو دَ دغه هیواد په وړاندې د امریکا او اسراییلو جګړې د منځنې ختیځ په جیوستراتیژیک او جیوپولیتیک وضعیت کې داسې بدلونونه رامنځته کړل چې اغېزې به یې ممکن د لسیزو لپاره دوام وکړي.

د جګړې په لومړیو ورځو کې ډېرو لوېدیځو او سیمه‌ییزو شنونکو اټکل کاوه چې د امریکا او اسراییلو له بریدونو لاندې ایران به له سختې ستراتیژیکې ماتې سره مخ شي او د بریدګرو هېوادونو د استخباراتي شبکو ترڅنګ ډېرو شنونکو هم د رژیم د نسکورېدو شونتیا یقیني ګڼله. د جګړې پایلو وښودله چې د ایران سیاسي نظام نه یوازې د بقا وړتیا درلوده، بلکې د جګړې له پای وروسته د سیمې په معادلاتو کې له پامه د نه غورځېدونکې مهم ځواک په توګه راڅرګند شو. همدغه تازه بدلون د خلیج د امنیت، د هرمز تنګې مدیریت، د امریکا د نفوذ او د سیمې د اقتصادي راتلونکې په اړه نوې پوښتنې راپورته کړې دي.

د ایران د ځواکمنتیا تر شا یوازې په نظامي برخه کې د دغه هیواد لوړ ظرفیت نه وو، بلکې سیاسي مشروعیت، ملي هویت، د نظام پېچلی ترکیب هم د ایران د بریا مهم فکتورونه وو. سختو ګواښونو له شتون او قرباني ورکولو سره سره د ایران مشرتابه د هېواد پرېښودو پر ځای له ولس سره د پاتې کېدو پرېکړه هم د نظام د بقا مهم لاملونه وو. د ایران مشرتابه هڅه وکړه ځان د بهرني یرغل پر وړاندې په مستقیم ډول د ملي مقاومت د مخکښ او سمبول په توګه ثابت کړي. دغه اقدام د نظام د مخالفینو او ملاتړو ترمنځ له ملي حاکمیت څخه د دفاع یو ډول ګډ احساس رامنځته کړ او د رژیم د نسکورېدو لپاره د اړین کورنې سیاسي ائتلاف د جوړېدو مخه یې ونیوله.

د ایرانی نظام د خوندي پاتې کېدو یو بل ارزښتناک اړخ د دغه هېواد د واک څو پوړیز جوړښت وو. د اټکلونو برعکس، اوس څرګنده شوه چې په ایران کې واک یوازې په یو شخص یا په یوې اداري پوړې محدود نه دی. مذهبي بنسټونه، سپاه پاسداران، امنیتي ارګانونه، ملکي بیروکراسي او سیاسي شبکې ټول د نظام د ساتلو په میکانیزم کې ونډه لري. له همدې امله حتی که د نظام یوه برخه له منځه هم ځي، ټول جوړښت او نظام نه ړنګېږي. د عراق، لیبیا او افغانستان د تجربو برعکس، په ایران کې لا هم یو منظم دولتي جوړښت، فعال امنیتي سیستم او د واک د لیږد څرګنده سلسله موجوده ده، چې د رژیم د مقاومت، ژر تر ژره د بیرته جوړېدو او بقا وړتیا زیاتوي.

له بلې خوا، جګړې وښودله چې د ایران تر ټولو ستره ستراتیژیکه پانګه د هرمز تنګې جغرافیایي موقعیت دی. د نړۍ د انرژۍ د صادراتو یوه مهمه برخه د همدغه تنګې له لارې تېرېږي. تهران وښودله چې حتی که د دودیزو نظامي شاخصونو له مخې له خپلو سیالانو څخه کمزوری هم وي، بیا هم د نړیوال اقتصاد د یوه حیاتي شریان د اغېزمنولو وړتیا لري. همدغه وړتیا ایران ته د جیوپولیتیکي برلاسي داسې ځواک ورکوي چې د سیمې نور هېوادونه یې نه لري.

د جګړې یوه مهمه پایله د خلیجي هېوادونو په امنیتي محاسباتو کې بدلون دی. په کویت باندې د عراق له یرغل څخه راپېدېخوا د خلیج ریاستونو او دولتونو ته د امریکا لخوا په مستقیم او غیر مستقیم ډول داسې باور ورکول کیده چې بالاخره امریکا د هغوی امنیتي تضمین کوونکې هېواد دی. خو وروستیو پېښو وښودله چې حتی د امریکا ستر پوځي حضور هم د سیمې د ټولو ګواښونو مخه ونشوای نیولای. دغه تشه په ریاض، ابوظبي، دوحه او نورو خلیجي پلازمېنو

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کې د امنیتي محاسباتو د بیا ارزونې لامل شوې ده. اوس ډېر خلیجي مشران دې نتیجې ته رسېږي چې د سیمې د ثبات لپاره باید یوازې په واشنګټن تکیه ونکړي، بلکې له ایران، چین، هند او نورو ځواکمنو لوبغاړو سره هم اندولیزې اړیکې پیاوړې کړي.

همدغه بدلون د هرمز تنګي د راتلونکي په اړه هم نوې سناریوګانې رامنځته کوي. د پخوا په پرتله اوس ډېر احتمال شته چې د خلیج هېوادونه د سیمه‌ییز امنیتي چوکاټ د جوړولو لور ته لاړ شي، ځکه چې هغوی درک کړې چې د انرژي د لیږد د لارو امنیت یوازې د بهرنیو ځواکونو په منټ نشي خوندي کېدای. په عین وخت کې امریکا هم هڅه کوي چې خپل نفوذ وساتي، خو داسې ښکاري چې نور به په سیمه کې د د مطلق او بې بدیله مخکښ او اخري پریکړه کوونکي اړخ رول ونلري. داسې نښې نښانې شته چې پر ځای به یې د چین، هند، ترکیې او روسیې په ګډون د ګڼ اړخیز امنیتي جوړښت د رامنځته کېدو بهیر چټک شي.

په سیمه کې جیواکانومیک شاخصونو له مخې جګړې یو ځل بیا ثابته کړه چې هرمز تنګی د نړیوال اقتصاد د وینې رګ دی. هر ډول ناامني، حتی که لنډمهاله وي، د نفتو او ګازو په نړیوالو بازارونو باندې ژورې اغېزې پرېږدي. له همدې امله به د انرژۍ واردوونکې هېوادونه، په ځانګړې ډول چین او هند، د خپلو ستراتیژیکو زېرمو د زیاتولو او د بدیلو اکمالاتي لارو د موندلو هڅې چټکې کړي. سعودي عربستان او متحده عربي امارات به هم هڅه وکړي چې د پایپ لاینونو او بدیلو صادراتي دهلیزونو له لارې د هرمز پر تنګي د خپلې اتکا کچه راکمه کړي.

په ټولیز ډول د خلیج جګړې یو مهم سیاسي واقعیت روښانه کړ: د ایران د رژیم بقا یوازې د ټیکنالوژي په برخه کې د دغه هیواد د پوځي ځواک پایله نه وه، بلکې د مشرتابه لخوا قرباني ته د وړاندې کیدو او له ولس سره د پاتې کېدو پرېکړه، د څو پوړیزو دولتي جوړښتونو ترمنځ انسجام، د ولس ترمنځ د ملي حاکمیت احساس، د نظام په ملاتړ، بقا او بریا کې د ښځو پراخه ونډه او د هرمز تنګي ستراتیژیک ارزښت ټول هغه عوامل وو چې د نظام د سقوط مخه یې ونیوله. همدغه وجه ده چې ایران، له درنو اقتصادي او نظامي زیانونو له ګاللو سره سره د جګړې له پای ته رسیدو وروسته د سیمې په نوې معادله کې د یو کمزوري او منزوي لوبغاړي پر ځای د یو داسې ځواک په توګه راڅرګند شو چې د منځني ختیځ د راتلونکي نظم په ټاکلو کې به مهم رول ولري.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ